**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱**
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ډاکتر عبدالمتین ادراک، د پیښنو په وړاندی د غبرګون د ملی اداری مشر**
**چارلی هیګینس د یوناما د بشری چارو مشر په افغانستان کی او**
**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- ۲۰۰۸ کال د مارچ اولسمه نیټه*

**د یوناما خبری کنفران**

**یوناما:** زموږ ننی کنفرانس ته ښه راغلاست. زه داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. زموږ سره میلمانه دي هر یو ډاکتر عبدالمتین ادراک، د پیښو په وړاندی د غبرګون د ملی اداری مشر او چارلی هیګینس د یوناما د بشری چارو مشر په افغانستان کی چی تاسو ته به د سیلابونو په وړاندی د چمتوالی د مسلی په اړه خبري وکړی.

## د نړیوال روغتیایی سازمان د ختیزی مدیترانی دفتر

سربیره پر دغه پراخ ناسم درک چي نری رنځ ګواکي نړدی مخ په ورکیدو دي، دغه ناروغی لا تر اوسه هم د عامو وګړو لپاره یوه ستره روغتیاېي ستونزه ده. د نړیوال روغتیا سازمان د ختیزی مدیترانی دفتر په خوښی سره د دغی دفتر د ختیزی مدیترانی د سیمی په هیوادونو کي د نری رنځ په هکله د رسنیو تر ټوله ښه پوښښ سیالی اعلانوي. د ټولو رادیو ګانو ، تلویزیونو او نورو رسنیو څخه هیله کیږی چی په دی سیالی کی ګډون وکړي، خپل کارونو کولای شی چی د اوس نه موږ ته راواستوی او آخری نیټه یی د اپریل ۱۵ نیټه ده.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره د څنګ پر میز باندی دا اعلان په پښتو، دری او انګلیسی باندی موندلای شی.

**د پیښو په وړاندی د غبرګون ملی اداری:** د څښتن تعالی په نامه. لومړی تر ټولو زه غواړم چي خپل درناوي او نیکی هیلی ټولو رسنیو ته چي په سختو شیبو کی د افغانستان د ناورینو د کنترول د ملی اداری سره همکاری کوی، وړاندی کړم. تاسو په افغانستان کی د پیښ شوو حالاتو شاهد وي چي یو طرف سیلابونه او د بلی طرف ته وچکالی او بلی خوا نه بیلابیل انسانی او حیوانی ناروغیو چي یو ځای د نورو ستونزو سره د هیواد په دننه کی و ځپل او یو د دی ستونزو یوه برخه د افغانستان د درېو لسیزو جګړو ته ارتباط لری. د دغو حقایقو په نظر کی نیولو سره، د افغانستان حکومت تصمیم نیولی دی چي د ولسمشر د نظر لاندی یو کمیسیون تاسیس وکړی، لیکن د ولسمشر د نورو مصروفیت له امله اوس د ولسمشر دویم مرستیال جلالتمآب خلیلی د دغی کمیسیون مشرتابه کوی چي د ناورینونو د کنترول او د هغوی د حل لپاره کار وکړی. د دی کمیسیون د دریو کالو د عمر په اوږدو کی موږ لاس ته داوړنی او همدارنګه په شاتګونه درلودل. موږ هره ورځ هڅه کوو چی خپل پر ضعیفو نقاطو باندی کار کوو او دخپل وس او توان کوښښ کوو چي د دی هیواد خلکو ته خدمت وړاندی کړو. زه کوښښ کوم چي په دی مطبوعاتی کنفرانس کی د پوښتنې او ځوابونه په ترڅ کی د تیر کال د خپلو د کار د نتایجو په هکله تاسو ته معلومات وړاندی کړم

د افغانستان د ناورینونو دکنترول ملی اداره، د ملګرو ملتونو دفترونه چي د یوناما تر مشری لاندی کار کوی، ایساف، او د ولایتی بیارغونی ټیمونه سره مناسبه او لازمه هماهنګی لري. پوهیږو چي د نړیوال پوځی قوتونو هدف په افغانستان کی د امنیت تامینول دی، لیکن دوی موږ او نورو ملی او نړیوالی موسسو سره د ناورینونو پر ضد د مبارزی په کار کی مرسته کړی.

تیر ژمی د همغږی ډیر شمیر ستونزی ، د ناورینونو د کنترول او د هغوی پر ضد مبارزی په اړه چي موږ ورسره مخ وو، حل کړل شو. د تیر ژمی تجربی مرسته وکړه چي موږ د ملګری ملتونو موسسات، ایساف و د ولایتی د بیارغونی ټیمونه او د نورو موسساتو په همکاری سره یو ښه او بهتره د همغږی سیستم، د ناورینونو د کنترول او د مبارزی لپاره رامنځته کړو.

**د یوناما خبری کنفران**

موږ یو لړ مشورتی غونډو چې د ولسمشر د دوهم مرستیال تر مشرتابه لاندی تنظیم کړل چې هر ورځ د دری ولایتونو والیان، د دی ولایتونو د ولسی جرگی استازی او د کلیدی وزارتخانو استازو، یوناما، نړیوال خوراکی پروگرام او د افغانستان د سری میاشتی ټولنی استازی او د افغانستان د ناورینونو د کنترول د ملی اداری سکرتریت گډون درلود او په دی کی د اړوندو سیلابو د گواښونو او نورو احتمالی ناورینونو مسایل بحث شو. او هم دا بحث شو چې څوک به کوم کارونه تر سره کوي او کمزوری نقاط چیرته واقع شوی دی، موږ څه ډول همغږی ته ضرورت لرو او د کوم مثالونو څخه د مرستو د په ویشولو په حالت کی باید اطاعت کړو. دا موږ ته یوه ستره لاس ته راوړنه وه.

بلی لاس ته راوړنی دا دی چې په تیره میاشت کی موږ د خپلو ټولو شریکانو سره دوه مهمی د همغږی غونډي درلودی چې په دی ترڅ کی موږ یو ځانگړی رپوټ فارمت جوړ کړ چې د ناورینونو د غبرگون، ارزونه او د خطر د کمولو د هدف لپاره جوړ شوی دی. موږ کولای شو چې په همدغه فارمت کی معلومات د ولایتونو څخه راټول کړو.

پرون موږ یوه غونډه درلوده چې ښاغلی خلیلی یې مشری کوله او موږ د روستنی دوو میاشتو موضوعاتو په اړه خبری تر سره کړي او په دی ترڅ کی مربوطه موسساتو ته لازمه لارښونه وشوه. په دی غونډه کی د نړیوال خوراکی پروگرام د ۱۸۰۰۰ متریک ټنو بیړنی حالاتو لپاره خوراکی مواد وړاندی وکړل چې د دی له جمعی څخه ۴۰۰۰ ټنه سیلاب ځپلو لپاره تخصیص ورکړی شوی دی، لیکن د موږ د تیروکالونو د ازونی پر بنسټ، موږ د ۸۰۰۰ متریک ټنه څخه نه هم زیاتو مرستو ته اړتیا لرو. دا لارښونی د نړیوالی خوراکی پروگرام سره یوه مباحثه شامل وو چې دا مقدار باید اضافه کړی، که چیري دوی دا کار نشی کولای نو موږ نور چینلونه هڅوو تر څو دغه مقدار پوره کړو.

د غیر خوراکی توکو مسئلی په اړه، موږ د دوی موجودی واخستیل او دا د ملگرو ملتونه او نوری مربوطه موسساتو سره و څیړل شو چې د ړومبی توپ او آسیب پذیر ساحو پر بنسټ منابعو تخصیص ورکړ شی. یوه بله غونډه په دی اړه جوړ شی، لیکن دا غیر خوراکی مواد د سیمیزو مراکز لپاره دی. امید دی چې موږ دا مواد په ولایتی مرکزو کی هم ځای پر ځای وکړو.

زموږ د تصمیم بله برخه د زیانمنیدونکو ولسوالیو په اړوند لکه د بدخشان درواز، دایکندی، غور او بامیان دا وه چې سره میاشتی ته وظیفه ورکړو چې د وړې کچې زیرمي د خپلو رضاکارانو په مرسته په دغو ځایونو کي چمتو کړي او د ژمي تر رارسیدو تر مخه د خوړو توکي ځای پر ځای کړي. ۱۱ ولایتونه ډیر زیانمنونکي بلل شوې دي او د ANDMA د وړاندیز پر اساس زیرمي به چمتو شي، چې په دغو ځینو ولایتونو کي خواړه ځای پر ځای کړای شي.

د ANDMA د وړاندیزونو په اساس ۶ اونی د مخې، د افغان دولت ۲،۵ میلیونه امریکایي ډالر د کلیو د بیا رغوني او پراختیا وزارت ته تخصیص کړل، چې ۸۰۰۰۰ گبیونونه پرې واخلي او زیانمنیدونکو سیمو ته یې ولیږي. څرنگه چې WFP په اکثره دغو سیمو کي حضور لري، د WFP خواړه د کار په بدل کي د پروژې له لارې له هغوي څخه کار اخلو، چې دغه گبیونونه ځای پر ځای کړي او د سیلابونو خطر راکم کړي.

موږ خپل پام هغو ځو ته اړولی چي د ناورین خطرونه کم شي، مخنیوی تر درملني بهتر دی. که چیرې ۱۰ افغانۍ په وخت ولګږو، نو موږ به دې ته اړ نه یو چي ۱۰۰ افغانۍ و لګوو، ANDMA د هیواد په ټولو برخو کي حضور نه لري. دولت او پارلمان پر دغه موضوع باندي غور کوي. موږ په سیمو کي ۷ ګرځنده ټیمونه لرو او هغوي له دې خاطره هلته دي چي د سترو ناورینونو په وړاندي غبرګون وښيي. دغه ټیمونه ۴ سترو موضوعګانو ته متوجي دي:

۱. لټون او ژغورنه

۲. چټکه ارزونه د دولت استازو، انجوګانو، د ناورین د کنټرول دولایتي کمېټې په مرسته. د دې کمېټې مشرتوب والی کوي.

۳. له ناورین څخه پوهاوی او د ناورین د خطر کمول.

۴. وروسته له هغه چي ارزونه ترسره شي، هغوي به په ولایت کي د خپلو په لاس کي زیرمو په اساس غبرګون ښیي.

زه غواړم چي له ټولو ډونرانو، د ملګرو ملتونو ایجنسیو او پي آر تي څخه د هغه ملاتړ په خاطر مننه وکړم، چي له موږ څخه یې کوي. زه غواړم له هغو مرستندویانو څخه مننه وکړم چي هغوي زموږ د دغې وروستی غوښتني سره مرسته کوي، چي هغه په ټول هیواد کي د ۵,۲ میلیونو افغانانو سره د ۹۸۰۰۰ متریک ټنه خواړو مرسته ده. د دغې غوښتني ۹۹ سلینه د کرنې د وزارت سره ژمنه شوې ده. په داسي حال کي چي موږ دلته خبري کوو، د دغو خوړو ویش جریان لري. د دغه غبرګون په اړوند چي کومي زیرمي شتون لري عمومي ارزونه یې دا ده چي دغه زیرمي په ۲۵ ولایتونو کي ښې دي. زه همدرانګه غواړم چي له رسنیو څخه د هغوي همیشني ملاتړ په خاطر مننه وکړم، زه پوهیږم چي تاسو د باخبرتیا د لوړولو او د خطرونو د کمولو په اړوند مهم رول ولوبوی. زه غواړم چي یوه بله موضوع هم یاده کړم، دا چي موږ ۱۰۰۰ تنه خلک په هرات کي له لاسه ورکړل، دلیل یې دا وو، چي په هرات کي خلک دا ډول ژمي ته چمتو نه و. په بدخشان، دایکندی، غور او نورستان کي خلکو د ژمي چاره په خپله وکړه، هغوي ورته چمتو وه. په هرات کي خلک په دښتو کي وه او دوي وایي چي یوه پیړۍ پخوا هغوي داسي ژمی درلود. له بله اړخه، موږ نه وو چمتو. موږ په هر ولایت کي د ۱۰۰۰ کورنیو لپاره چمتوالی درلود، خو یوازې په هرات کي ۳۰۰۰۰ کورنۍ اغیزمني شوي وي. دا زموږ لپاره ستونزمنه وه، خو بیا هم موږ تر هغي اندازې پورې غبرګون وښود چي تر ممکنه حده

## د یوناما د بشری چارو د څانګی مشر چارلیز هیګنز

د ملی غبرګون د ظرفیت تر څنګ درېدل، په بیلابیلو سطحو کي د کلیدی کسانو سره په همغږي کول، او په ټولو سطحو کی د ناورینونو پر ضد د افغانستان د ملی اداری سره ملاتړ، د نړیوالی ټولنې د غبرګون ظرفیت دي. په ولایتونو او ولسوالیو کي د نړیوال موجود ظرفیت، که دا د انجوګانو او یا د ملګری ملتونو د موسسو له خوا یې استازی توب کیږي، مخکی له دي نه چي سرچینی په کابل کي او یا د هیواد څخه بهر وسائل شي، را وغوښتل شی. دغه ملکی سرچینی د یوناما له خوا همغږی کیږي چي د هغه دنده ده ترڅو نړیوال غبرګون ملی غبرګون ته د موثر ملاتړ تیارول، تامین کړي. خو دا باید د ټولو په یاد وسائل شی چي ملی غبرګون تل مشری په غاړه واخلی.

په اتو حوزو کې چې یوناما حوزه وي دفترونه لري، د ناورینونو پر ضد د افغانستان د ملی ولایتی ادارو او همدارنگه د ناورینونو د اداری د کمیتیو سره چې د والیانو له خوا یې مشری کیږی، له نږدی سره کار کوي. د یوناما د بشری مرستو څانگه په ولایتونو کې د دغو ادارو او د کلیو پراختیا و بیا جوړونی د ریاستونو کارکوونکی رهنمایی کوي او د ولایتی کمیتیو د سرکتریت کار لا پسی موثره کوي. کوښښ کوي چې غونډی ترتیب شی، بلن لیکونه او اجندا واستول شي او د غونډو مسودی ترتیب شی. همدا راز یوناما د ناورینونو د ولایتی کمیټي د پلان په جوړولو کې مرسته کړي. په ټولو حوزو کې عمومی اړتیا د ملی ظرفیتونو زیاتوالی وو، نه یوازی کارکوونکی او تجهیزات بلکی تمویل او تخنیکی مرسته د اړوندو روزنو لپاره.

د یوناما د بشری مرستو څانگه سربېره پر دغه چې د ولایتی کمیتیو ملاتړ یی کړي، د ملګرو ملتونو د موسسو، انجوګانو او نړیوال سوله ساتی ځواکونو د ناورینونو د اداری کار یې هم همغږی کړي. د نړیوال سوله ساتی ځواکونو څخه د بشری مرستو د ملاتړ لپاره د کار اخیستل اصل دا دی چې د دغو ځواکونو څخه په آخر پړاو کې او کله چې نور ټولی لاری کارول شوي وي، کار واخیستل شی. ستونزه دا ده چې کوم وخت د ولایت او یا ولسوالی په سطحه کې لږ ظرفیت موجود وي، نو یو وړوکي ناورین هم کولای شی ځایی ظرفیت تر خپل تاثیر لاندی ونیسی. والیان هم دی ته آماده دي چې په خپلو حوزو کې د پوځی همکارانو څخه په ځانګړي ډول د ولایتی بیار رغونی ټیمونو څخه کار مرسته وغواړي.

دا چې د بشری مرستو فضا محدود شی نو د هغه پایلی به ډیره ناوړه وي. د موسساتو او اړوندو ډلو سره د دیالوګ ته اړتیا لري چې یوازی په ګډی اخیستونکو او حکومت پوری او همدارنګه پر هغه محیط چې په هغه کې علمیات په خوندي ډول تر سره کیږی، محدود نه وي.

البته دغه دلیل چې ولی د بشری مرستو یوه برخه پوځی موسسات اشغال کړي دا دي چې ناوړه امنیتی وضعه د هیواد په ځینو سیمو کې د دی سبب شوي چې نړیوال موسسات د سیمو څخه ووځي.
حتی په هغو سیمو کې چې په عمومی ډول بشری مرستو (او پراختیایی) کارونو ته اجازوه ورکوي، په هغه ځاینو کې د کارکوونکو کموالی شته ځکه چې دونر ملکونه دا برتره ګنی چې خپلی پیسی د خپل ولایتی بیارغونی ټیمونو له لاري مصرف کړي نه د نورو ملکی دودیزو فعالینو له لاری.
په نا امنه سیمو کې دا غیر ضروري دی، او په دغو سیمو کې باید ډیر ټینګار او تمرکز د ملي ظرفیت پر جوړولو وشي، چې د نړیوال ظرفیت له خوا بشپړ کړای شوی او د انجوګانو او د ملګرو ملتونو د ایجنسیو له خوا برابر شوي.
اوس زه غواړم په ځانګړي توګه د سږ کال د احتمالي سیلابونو په هکله خبري وکړم:
تیر ژمی به د یو بې ساری ساړه ژمی په توګه په یاد وي، په خاص ډول په هغو سیمو کې چې د یخي هوا سره عادت نه وو، لکه د هیواد د لویدیځ. همدارنګه د واورې یوه غیرې معمولي اندازه اوربښت وه، چې ډیره اندازه یې د هیواد په لیرې لویدیځو سیمو او شمال ختیځ کې وې، خو تر عادي کچې د هیواد په منځنی برخه کې لږ څه کمه وه، چې د واورې د پراخه اندازې د زیرمه کیدو سبب شوې خو دغه زیرمه د تیر کال د ژمی په پرتله

کمه وه. د سخت ژمی ټکان زیاتره د ټیټو درجو د یخني له کبله وو، په خاصه توګه په هغو سیمو کې چې ورسره وګړي بلد نه وو، لکه هرات. دا په جنوری کې د هوا ډیره ټیټه درجه وه چې ۸۰۰- ۱۰۰۰ تنه ووژل (زیاتره نارینه چې نسبت و ښځو ته ډیر د باندې وي) او همدارنګه په سل هاو زره څاروي د هیواد په ګوډ ګوډ کې ووژل.

د فبروري له نیمه يي څخه را پدیخوا تودې هوا د واورې یخي زیرمې ۷۰ ٪ له د وخته ویلې کړې ده او دا تر اوسه پورې د لیرو سیلابونو سبب شوې، ځکه چې د اوبو حجم د دغه وخت د تاریخي منځنۍ کچې نه د اوبو په زیرمو او د بندونو شاته ډیر کم دی. د واورې د اورښت په زیاتره سیمو کې دغه اوسنی د واورې اوبو اندازه د منځ مهاله منځنۍ کچې په نسبت ۲۵ په سلو کې کمه ده، چې دا د دې مانا ورکوي، د اوبو هغه اندازه چې د واورې په زیرمه کې ذخیره شوې دي د کال د دغه وخت تر نورمال اندازې ډیره لیږ ده. او ۹۰ په سلو کې د تیر کال د اوبو د زیرمې په پرتله کمې دي. په افغانستان کې د کرنې د اوبو ۸۰ په سلو کې برخه د ځمکې د مخ له زیرمو څخه راځي، نو که چیرې په دوو راتلونکو میاشتو کې باران و نه شي، د اوبو اوسنی اندازه د هغو اصلي حاصلاتو/فصلونو لپاره یو ښه زیری نه دی، چې د اګست او اکتوبر په میاشتو کې د هیواد په بیلا بیلو برخو کې کرل کیږي او د ۲۰۰۹ د می- سپیتمبر میاشتو کې اخیستل کیږي. تر اوسه پورې په شمالي لایتونو لکه فریاب، بلخ او بدخشان کې د سږ کال د عادي کچې نه کم اورښت شوې دی، نو ځینې سیمې به د اوبه خور د اوبو په کمښت اخته وي، حتی د دغه د مارچ او اپریل د پسرلی په کښت کې هم، چې دا امکان لري د دغه کال د می- سپیتمبر د میاشتو راتلونکي اصلي حاصلات هم اغیزمن کړي چې هغه د هیواد د حاصلاتو ستره برخه جوړوي.

د تخنیکي شواهدو له مخې چې د سپوږمکیو د فوتوګراپي او نورو سرچینو څخه لاس ته راغلي دي راښيي، چې سږ کال به د ۲۰۰۷ کال د پسرلی په اندازه سیلابونه نه وي، ځکه چې دا کار د واورې د زیرمې د ضخامت وظیفه ده. او په تودوخه کې ناڅاپي لوړوالی او همدارنګه هغه باران چې په چټکۍ سره د واورې ویلېکیدو سبب کیږي. که څه هم د تودوخې درجه په ډراماتیکه توګه لوړه شوې ده، د واورې زیرمه په عمومي توګه نرۍ ده او تر اوسه پورې باران هم لیږ دی، نو کرونډګر حق لري چې د وچکالۍ په باره کې اندیښمن و اوسي. موږ نه شی ویلای چې سیلابونه به هیڅ نه وي، خو کوم شواهد چې په لاس کې دي دا ډاګه کوي، چې دغه سیلابونه ډیر احتمال لري چې د تیر کال د سیلابونو په شان به په پراخه کچه او ورانونکي وي. موږ بیا هم باید د سیلابونو په اوارو او په حاشیوي سیمو کې چې هر کال د سیلابونو لخوا تحدیدیږي، سیلابونو ته چمتو و اوسو. دا هم باید په یاد ولرو چې د سیلابونو اعظمي اندازه په عادي شکل تر اپریل پورې نه پیښیږي، نو پدې توګه لا ۶ اونۍ نور هم وخت لرو.

پورې غوښتنو ته ځواب ووایو.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**ای ایف پی:** آیا تاسو د دی وچکالی رارسیدو لپاره کوم دلیل لری او دا چي وچکالی د کوکنارو کښت باندی به څنګه اثر ولری؟

**یوناما:** تر اوسه پوری موږ یقیني ویلی نه شو چي وچکالی راځی، لیکن د علایمو څخه داسی ښکاری. اوس مهال د واوری کافی ذخایر نشته چه د کال د یوی ډیری مودی لپاره په سندونو کی جاری شی. اوس هم دا خبری یوه ډیره حده پوری بارانونه پوری اړه لری چي په نورو دوو میاشتو کی واوری. لیکن بیاهم داسی ښکاری چي دا بارانونه شاید دومره نه وی چي موږ ورته اړتیا لرو. او شاید هغوی ساحو باندی دا ستر اثر ولری چي د للمی بزګری ځمکو باندی متکی دی چي په شمال سیمو کی چي د ابول ځمکی په پرتله د للمی ځمکی ډیر دی. په بل تعبیر، په هغو ولایتونو کی چي د وچ کالی ډیر تجربه نلری. دی لپاره د دی تاثیر هلته ډیر زیاته به وی. دا چي وچکالی د کوکنارو کښت باندی څنګه اثر لری، زه د بزرګری یو متخصص نه یم، لیکن برسیره د دی زه باور لرم چي د کوکنارو کښت د نورو شیانو مثلا د غنمو په پرتله د وچکالی په وړاندی ډیر زیات مقاومت لری. په دی لحاظ، دا شاید د نورو شیانو مثلا د غنمو په پرتله کوکنارو باندی کم اثر ولری. لیکن بیا هم دا ټول دی باندی اړه لری چي دا کښتونه چیرته پراته دي په للمی کښت یا د اوبو په کښت باندی.

**باختر خبري ايجنسي:** د تیر کال د تجربو په اساس، آیا د خوراکي او غیر خوراکي توکو لپاره مو څومره زیرمي منځ ته راوړي دي؟ همدارنګه تا وویل چي پرون په وروستی میتینګ کي د بیړني غبرګون په کمیسیون کي دري موسسي ډیري بریالی پیژندل شوي وي، چي هغه د روغتیا او کرني وزارتونه او د افغان سره صلیب ټولنه دي. آیا تاسي به د هغو موسسو لپاره چي کامیاب یا ناکام شوي، کوم د مکافاتو او مجزاتو سیستم رامنځ ته کړئ؟

**د پيښو په وړاندی د غبرګون ملی اداری:** ستا د لومړۍ پوښتنې په اړوند د راتلونکی ژمی لپاره د خوراکي او غیر خوراکي توکو په ارتباط زه باید ووایم چي موږ د غیر خوراکي توکو د زیرمو په اړوند د زیرمو په باره کي د ملګرو ملتونو د ایجنسیو، د افغان د سري میاشتي د ټولني په مرسته، موږ هیڅ ستونزه نه لرو. لکه چي ما په مخکینیو خبرو کي وویل، موږه له د وخت ګبیونونه لیږدول دي او هغه استول کیږي. او د زموږ د خپل صلاحیت په ارتباط موږ یو انسجام کوونکی ارګان یو او د همغږۍ سطحه د هغي اندازي برابر نه وه چي سږ کال یي تمه کیده. او له همدي کبله ده چي د ولسمشر مرستیال د همغږی په باره کي تینګار وکړ او و یي ویل چي هغي موسسي هم دولتي او هم غیر دولتي چي خپل هڅي د بیړني حالت په غبرګون کي نه سره همغږي کوي، هغوي باید دغي کمیټي ته ور وپیژندل شي، چي په دي ترتیب موږ باید هغوي له کمیټي څخه وباسو، ځکه چي دوي ښه انسجام نه کوي. له دي کبله چي موږ ولیدل، زموږ غبرګون د ناورین په وړاندي دومره لوړ وو، خو شواهد یا ارقام واقع متضاد وه.

د غیر خوراکي توکو په اړوند ما د هغو شیانو لست لاس ته راوړي چي د بیلا بیلو ایجنسیو له خوا ورکړل شوي دي لکه یونیسف، چي هغوي حتی د ویش واک هم راکړی دی. او همدارنګه هغه ایجنسی لکه ایساف، پي آر ټي، پاملرنه او افغاني سره میاشت خپل لستونه رالیږلي دي. خو پرون موږ په خپله غونډه کي پریکړه وکړه

چي موږ باید دغه توکي د ولایتونو د اړتیاوو په اساس وویشو. لکه چي هر یو به په غونډه کي حاضر وي او خپله موافقه یا ردول به تسلیم کړي.
د خوراکي توکو په اړوند، کومي مرستي چي ډنمارک، د متحده ایالاتو، چین او هند له خوا ورکړل شوي ده، دا به WFP ته ځي، که څه هم هغوي وویل، چي ۸۰۰۰۰ متریک ټنه د بیړنیو حالاتو لپاره، هغوي بیا هم ژمنه وکړه چي هغوي نور خوراکي توکي ورکړي، که چیري ورته اړتیا پیښه شي. خو سبا به یوه غونډه وي چي موږ هیله لرو چي په هغي که به زموږ د خوراکي توکو غوښتنه هم حل شي، هر څومره ژر چي موږ کولای شو چي له هر چا سره دا موضوع روښانه کړو او هغه مرسته چي موږ یې ورکوو د ټولو له خوا منلی کیږي.
ستا د پوښتني د دویمي برخي په اړه، څرنګه چي ANDMA د چټک غبرګون دارالانشاء ده او موږ د دې واک نه لرو چي ووایو، چا ښه کار وکړ او چا و نه کړ، خو زه باید دا ووایم چي دغه دري موسسي اوس تیاري شوي، د هغوي د ښه کار په خاطر، ځکه چي یو شمیر دلایل شته. لومړی دلیل شته چي د روغتیا وزارت، د کرني وزارت او د افغاني سرې میاشتي ټولنه په خپلو زیرمو کي لازم مواد لا د مخه درلودل او همدا علت دی چي پخپل وخت یې وویشي.
نوري موسسي او یا وزارتونه غبرګون ته چمتو وه خو دوي دا کار تر ناورینه وروسته وکړ، ځکه چي هغوي مرسته په نوموړو سیمو کي نه ځای پر ځای کړې، او همدا علت دی چي په دوی ناوخته شوه. خو تر یوې اندازې پورې هر چا د خپلي توانمندی په اساس او همدارنګه د هغې ارزوني په اساس چي د ANDMA لخوا په ځینو ولایتونو کي شوې وه، یو څه وکړه. په ځینو ولایتونو کي چي ما پخپله هلته سفر وکړ په هرات، غور او شمال کي او همدارنګه ما یو شمیر خپل کارکوونکي هغو سیمو ته ولیږل او ما چک کړه، ما ولیدل چي د هر څه مرسته چي لیږل شوې وه، هغه د ناوړو او ځینو نورو شرایطو له کبله نه وه رسول شوې، هغوي و نه شو کولای چي خپله مرسته په وخت ورسوي. د مثال په توګه ما قراردادونه د سړکونو د ساتني په اړوند او یا د نورو قراردادونو په اړوند چک کړه هغه په واقعیت کي د مخه نه وه شوې.
نو له همدي کبله ده چي موږ په ښه همغږۍ باندې ټینګار کوو و موږ کوشش کوو چي زیاته همغږي ولرو او له همدي کبله ده چي موږ دغه د چټکي مرستي ټیمونه منځ ته راوړي دي، څو ډاډ تر لاسه کړو، هغه مرستي چي ویل شوي او یا هغه ارقام چي ورکړل شوي دي، مرسته په عملي توګه هغو سیمو ته رسول شوي چي ورته اړتیا ده.

**بی بی سی:** سره له دې چي تاسو یاده کړه چي تاسو کرنیز کارپوه نه یاست، خو تاسې وویل چي کوکنار کمو اوبو ته اړتیا لري، زه غواړم په دې پوه شم، که چیري په دې کي یو خطر موجود وي چي کروندګر به د ممکنه وچکالی له امله د نورو فصلونو پر ځای کوکنار وکري؟
**یوناما:** په واقعیت کي نه په ډاډه نه یم چي وچکالي به د کوکنارو په کرلو څه اغیزه ولري، زه په دې باره کي تخنیکي ځواب نه شم درکولای. زه کولای شم یو څه نور زما د معلوماتو وړ ځواب درکړم، چي د وچکالی اغیز به د کار پر نورو اصلي حاصلاتو باندې څه وي. لومړی دا ده چي هغه حاصل چي اساسا اوس اخیستل کیږي. او دا حاصل به له وچکالی څخه ډیر اغیزمن نه شي، ځکه چي باران له د وخت وریدلی دی او یا هغه

واوره چې همدا اوس وريدلي ده، دا په اساسي توګه دغه حاصل ته موقع ورکوي چې وده وکړي او درمند يې واخيستل شي.

دا وروستي حاصلات دي چې اغيزمن به شي، نو په دې ترتيب دا اصلا د اوږدې مودې لپاره د واورې يا د اوربښت نشتوالی دی چې هغه به پر حاصلاتو اغيز ولري.

اشخاص به د دغه کار د چاره کولو لپاره بيلا بيلې ستراتيژۍ ولري او د هيواد په بيلا بيلو سيمو کې کورنۍ بيلا بيلې د چاره کولو ستراتيژۍ ولري، د هغوی د خپلو دوديزو لارو چارو په اساس چې د وچکالۍ سره چال چلند کوي چې افغانستان البته د دغو لارچارو سره ښه بلدتيا لري او همدغه تجربې د تيرو څو کلونو له اوږدې وچکالۍ څخه ښه تجربه لري. خو زه فکر کوم هغه څه چې موږ ويلی شو دا ده، چې وچکالۍ به په ټول هيواد کې د خوراکي توکو مصونيت راکم کړي او دا په داسې وخت کې ده چې د خوراکي توکو بيې تر بل هر وخت د مخه له د وختو لوړې شوي دي او دا يوه ستره انديښنه ده.

**آريانا تلويزيون:** زما پوښتنه ښاغلی چارلی ته متوجې ده. لکه چې تا وويل، چې تا د يو سخت ژمی توقع نه درلوده، نو د سيلابونو په برخه کې، آيا تاسو د سيلابونو توقع لرئ؟ که ځواب مثبت وي، آيا تاسې ورته چمتو ياست؟

**يوناما:** په لاس کې معلومات راښيي چې د سږ کال سيلابونه اندازه به نسبت و تير کال ته کښته وي، ځکه هغه وخت د واورې سطحه ډيره پنډه وه، په حقيقت کې دغه اندازه په ټول هيواد کې همداسې وه، که څه هم ډيره پراخه وه، په تيره په هغو ځايونو کې چې په عادي توګه دومره نه وي لکه په لوېديځ کې. په منځنۍ کچه د واورې سطحه په سلو کې ۹۰ سږ کال کمه ده. دا په واقعيت کې هغه څه ده چې په ويلکيدو سره يې سيلاب راځي، خو د بارانونو اوربښت هم په کار ده چې د سيلابونو سبب شي. کيدای شي موږ لا اوس هم ستره اندازه باران ولرو، چې دا به ناوړه وي، ځکه چې باران سيلابونه راولي خو ښه به وي چې هغه به د دغه کال د وروستيو برخه لپاره د اوبو زيرمه بهتره کړي. نو سيلابونه نه په بشپړه توګه مثبت دي نه منفي، خو فکر کوم چې يوازې د ګوډ ګوډ څخه معلومات دا راښيي چې په عمومي توګه موږ به له ليرو سيلابونو سره مخامخ شو او د تير کال په پرتله له ليرې اندازې شديدو سيلابونو سره، خو دا د دې مانا لري چې سيلابونه به هيڅ نه وي. بيا به هم داسې ځايونه وي چې د دغه پسرلی په دوام کې به په ځينو وختو کې سيلابونه ولري، ځکه چې داسې سيمې شته هلته خلک اوسيږي چې اصلا د سيلابونو هوارې سيمې دي او يا دغه سيمې د سيلاب منونکې سيمې دي.

د تياري په هکله زه ويلای شم چې د هيواد په ګوډ ګوډ کې داسې زيرمې شته چې د ملګرو ملتونو او د انجوګانو په منځ کې خوراکي او غير خوراکي توکي شتون لري. دغه زيرمې کيدای شي د بيلا بيلو مقصدونو لپاره تخصيص کړای شي. دوی په عادي توګه د عادي پروګرام د مقصدونو لپاره استعماليږي، لکه د ښوونځي د بيسکيټو زيرمې، د ښوونځيو د تغذيې لپاره او داسې نور. خو که چيرې په داسې يوې سيمې کې چې بيړنی حالت رامنځ ته شي چې هلته دغه زيرمې شته نو په هغه صورت کې له دغو زيرمو څخه د دغه بيړنی حالت د چاره کولو لپاره کار واخيستل شي او د مرکزي سيمو څخه به بيرته پوره کړای شي. دا هغه لارې چارې دي چې د ملګرو ملتونو نمايندګۍ او انجوګانې ورڅخه کار اخلي. يادې شوې زيرمې يوازې د يو ډول ناورين لپاره

نه تخصیص کیږي، هغو د پروګرام د مقصدونولپاره استعمالیږي، خو که چیرې یو بیړنی حالت په یوه سیمه کې رامنځ ته شي نو له دغو زیرمو څخه به کار واخیستل شي او بیا به بیرته پوره کړای شي.

**تمدن تلویزیون:** ښاغلی ادرک، تاسې وویل چې سږ کال د مرستې په برابرولو کې بریالی و یاست، د هرات نه پرته، مرکزي یا شمالي ولایتونو ته مرسته نه ده رسیدلې، ایا د دې تر شا دلایل څه دي؟ دویم، آیا د راتلونکی کال لپاره د چمتوالی په اړوند، تاسو خلکو ته کومه ډاډګیرني ورکولای شئ؟

**د پیښو په وړاندی د غبرګون ملی اداری:** ما لا د وخته د تاسو لومړی پوښتنې ته په خپلو پرانیستونکو خبرو کې ځواب ورکړ، لکه چې ما وویل زه د ټولو ایجنسیو د وعده شوې مرستې لست لرم. موږ د غیر خوراکي توکو په اړوند هیڅ کمښت نه لرو، لکه د کورنی کیټونه، خیمې، ترپالونه، درمل او داسې نور. یوازینی ستونزه چې موږ درلوده، هغه د مرستو همږې او انسجام وه. اوس ماته واک راکړل شوی دی چې په مخامخ توګه د ولایتونو له والیانو سره تماس ونیسم، چې هغوی د ولایتي کمیسیونونو مشران هم دي او له هغوي سره دا خبره ثابته کړم چې ایا هغوی ته هغه مرسته چې د بیلا بیلو ایجنسیو له خوا یې ادعا شوې ده، رسیدلې او که نه.

ستا د دویمې پوښتنې په ځواب کې، په دا تیرو دوو ورځو کې موږ د ایساف په مرسته چې د سونګ مواد یې راکړه او د دفاع وزارت په مرسته چې چورلکې یې راکړې، موږ د خوړو او د نورو شیانو په مرسته دایکندي او د بامیانو ولسوالیو ته ورسوله. ځینو کورنیو ته چې کورونه یې د سیلابونو پر مهال وران شوي وو، مالی مرسته ورکړل شوه. یوازینی ځای چې موږ و نه شو کړای، د سرکونو د نشتوالی پخاطر هلته ورسیږو درواز، خواهان او واښان ولسوالی په بدخشان ولایت کې دي. موږ کوښښ کوو چې د تاجکستان له لاري د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکي پروګرام په مرسته دغو ولسوالیو ته د خوړو مرسته ورسوو. یوه بله نکته چې زه غواړم یاده کړم دا ده، چې افغانستان ۲۵ میلیونه نفوس لري او ۲۳ میلیونه یې مرستې ته اړتیا لري. زه یوازې د مرستې د رسولو لپاره هغه وخت مسولیت لرم، که چیرې یو طبیعي ناورین لکه سیلاب او د واورو خویدنې، زلزلې، د ځمکې خویدنې او داسې نور واقع شي. که چیرې یوه ولسوالی د سرکونو د بندیز له کبله ګوښه پاتې وي دا د ANDMA وظیفه نه ده چې مرسته ورسوي، مګر دا د مرستندویو موسسو یا د نورو اړونده موسسو/ادارو دنده ده. کله کله موږ مجبوریږو چې مرسته کډوالو ته ورسوو، خو دا زما وظیفه نه ده. زما وظیفه د ناورنیونو په وړاندې غبرګون دی، نو همدا خبره ده چې خلک قناعت نه لري او تل شکایت کوي چې دوي ته مرسته نه ده رسیدلې.

زموږ اداره خپلې منابع نه لري، زموږ دا وظیفه ده چې هڅې سره همغږې کړو او که چیرې موږ زیرمې ولرو نو زه د حل لارې هم لري. ما خپل وړاندیزونه دولت ته تسلیم کړي دي، چې موږ څرنګه کولای شو، چې په ښه توګه د حل لارې پیدا کړو.

**الجزیره:** د هیواد په سهیل او نورو برخو کې چې د نړیوالو انجوګانو د کار کوونکو او په ځانګړی ډول د ملګرو ملتونو کارکوونکو لپاره د لاسرسی وړ نه دي، ستاسی عملیات په کومه اندازه د امنیتی وضعی له امله متاثره شوی، په داسې حال کې چې تیر کال د نړیوال خوراکی پروګرام ۱۰۰۰۰۰ ټنه خواړه تیر کال غلا

شول؟ تاسی وویل چي د پوځی فعالینو څخه ګټه اخیستل به آخرین لاره وي، په داسی حال کي چي د ۲۷ ولایتونو د بیارغونی ټیمونه ټول پوځی خلک دي. ستاسی تبصره په دی هکله څه ده؟

**یوناما:** امنیت یو ستر خنډ دي، او روښانه ده چي دغه خنډ د هیواد په سهیل، سهیل ختیز او ځینو نور سیمو کي دی. په حقیقت کي د هیواد په زیاتره برخه کي ستونزی شته او تصویر یوملیتی نه دي. کیدای شی تاسی د هیواد هغو سمیو ته ولاړ شي چي تمه کیږي هلته امنیت ښه دي، خو هلته خنډونه شته. او کیدای شی تاسی د هیواد هغو سیمو ته ولاړ شی چي هلته امنیت ډیر خراب دی، خو بیا هم تاسی هلته کار کولائ شئ. ملګری ملتونه د یو زیات شمری ملی او نړیوالو انجوګانو له لاري کار کوي، ځینی وخت د قراردادیانو له لاری او ځینی وختونه چي دوي پوهیزی زیات کار کولای شی دوي یي په خپله کوي. کله چي د امنیت مسله وي نو یوازی انجوګانی د قبلولو د پالیسی سره ځان عیاره وي. دا په دا مانا ده چي دوي باید د هغو ټولنو له خوا ومنل شي کومو ته چي مرستی تیار شوي. او یا د هغو ټولنو له خوا و منل شی چي دوي د مرستو د ویشلو پر مهال د دوي له لاری څخه تیریږی. که چیری دوي داسی ښکاره کړي چي دوي یوازی د مرستو د ویشلو لپاره راغلي او نه د کوم بل هدف لپاره، او دوي یوازی د بشری مرستو لپاره اندیښمن دي، دا هغه ستراتیژی ده چي په زیاترو ځایونو کي کار کوي. او دا یوازی یو ستر مدیریت او د ټولنو سره تفاهم ته اړتیا لري. نو په دغه لړي کي ملی انجوګانی او د افغانی ټولنی سره میاشت ډیر ښه موسسات دي.

د ولایتی بیا رغونی ټیمونو څخه یوازی هغه وخت کار اخیستل کیږی چي په هیواد کي د مرستو یو ستر خالیګاه او کموالی شتون ولري. کوم کار چي موږ یي غواړو تر سره کړو هغه دا دي چي د ولایتی بیارغونی ټیمونو په دننه کي د ملکی متخصصینو استخدام زیات کړي. دا واقع کیږی او هیواد دا کار کوي. موږ همداسی ایساف هڅوو چي اجازه وکړي زیاتر ملکی کسان د هیواد هغو سیمو ته ولاړ شی چیرته چي امنیت هلته خراب دي او د ولایتی بیارغونی ټیمونو پر ځای په موثر ډول کار وکړی، دا که ملکی کسان وي او یا پوځی خو د زیات دودیز او پرمختللی فعالینو لکه انجوګانی. موږ داسی شواهد لرو چي په ځینی قضیو کي مرستی هغه ځایونو ته رسیدلی چیرته چي ډیر محدودیتونه وو. د مثال په ډول د خوراکی توکو راوړل د بیي د زیاتوالی له امله، کله چي د حمل په میاشت کي یوه غوښتنه لاری ته واچوله شوه، او له هغه وخته خوراکی توکی راوړل کیږی، موږ دغور په ولایت کي د اوړو په بیيو کي کموالی ولید. اوس بیی د غور او هرات په ولایتونو کي ټیټی دي چي ډیر د لاس رسی وړ ځایونه هم دي. نو په دي ډول د خوړو راوړل د بیی په ټیټوالی کي مثبت اغیز درلود چیرته چي یوه کیلو اوړه ۱۷ عشاریه ۵ افغانی خو په هرات لا تر اوسه ۱۹ عشاریه ۸ افغانی دي.

نو مرستی هغه ځایونو ته هم ځي چي تاسی فکر کوئ هلته امنیت یوه ستونزه ده.

ډیره مننه